د ص سعیدي

۲۰۲۴/۰۴/۱۰

# په لمانځه کې راز او نیاز

زړګیه ترنم دې ډېر ښایسته جوړه غوغا
خوشال دې کړم، موخه د رب رضاء
خوبونه د ستا حق کوه خبرې ستا رضاء
خو
لمانځه کې کړه خبرې، صرف د رب سره زما
د خوب په خیال کې ښې دې تلوسې خو دې مالومې
د مرو سره نه شي، اتصال، الله رضاء
مقام د رسول لوړ، حضرت معراج ته رسېدلی
لمانځه کې مسلمان کوي خبرې د الله (ج)
شاعر که وي عالم د دین په رمز باندې آګاه
مقام یې شي اوچت ورځېنې جوړ رحمان بابا
سمیع افغاني هم د پرګنو یو ښه شاعر وه
د هر چا مرتبه وي خو دده مقام جدا
سبحان سره خبرې کړه همدا ده مدعا
لمانځه کې کړه صرف د رب سره بیا بیا

د ص سعیدي
۲۰۲۴/۴/۶



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ